مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: شهید محمد موسی شفیق
رالیږونکی: فضل الرحمن فاضل

۲۰۲۲/۰۱/۲۱

# عبقریان
# او
# نورې قصې




(۱)

زما د عمر نولسم کال ؤ چي محرقي راباندی یوه ترخه او بی رحمه حمله وکړه، کله چې د حملې ټکنده غرمه تیره شوه، او د زوال وخت یې راورسیده زما په رګونو کې بیا وینه وچلیده او د ژوند تمه مي پیدا شوه، دا هغه وخت دی چې عموماً پکښې د تخیل باچایې وي، خیالونه او خاطرې پرله پسی د سرې په سر کې ګډیږي او ځی راځې.

همدغه شپی ورځې وې چې زما حافظې بیا هغه خاطرات راوسپړل او راوڅېړل چې کلونه کلونه - آن د ماشوم توب له وخته زما په مغزو کې په قلاره قلاره سره راټول شوی وو، دا خاطرات چې هماغه د رنځورۍ په شپو کښې ورباندی د ((هفته کوک)) نوم ایښودل شوی ؤ، کله چې واقعات وو ماته یې چندان قیمت نه لاره، بلکه لا زما د ماشوم توب هغه دوره چې د دې واقعاتو سره نغښتي وه دردناکه او د محرومیت نه ډکه وه.

(۲)

د ښار په یوه ډېره ګڼه محله کې یو ډېر اوږد او سرور جومات دی چې دوه (یوه لویه او بله وړه) دروازې ورته لګیدلی دی، د لوي دروازي په سر دوه اوچتي مناری ولاړی دي چې اصلا خو خټګر د آذان د پاره جوړي کړي مګر اوس یوسمبول اونښه ورته ویلی شي، د منارو د حد نه چې سړی تیر شي په پنځلس شل قدمه کښې یو ډنډ راځي چې د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

اوبو نه تل ډک وی او شاوخوایي پخو لښتیو نیولی ده، د دی لښتیو غاړو ته د خدای عابد بندګان په دوه پښو کښیني او ټول په شریکه د دې لوی او مشترک ډنډ نه په هغه خوند او مزه د اودس اوبه را اخلي لکه هغه سپاهیان چې د قروانی د عظیم الشان دیګ نه به یې ښوروا راخیسته او ما ډېر پخوالیدلی وو، هرڅوک په همدی ډنډ کي لاس او پښی یوځای وینځی او د هیچا په زړه کې هم هیڅ نه تیریږي، هرڅوک چې په هغه لویه دروازه راننوزی دا ډنډ یې لومړی پړاو دی خو پدی شرط چې د هغه او یا د هغه د کوم یار دوست د استوګنی ځای د هغی تیارې کوڅی شاته نه وي په کوم چې مونږ هم یوه شیبه وروسته ور روان یو. دویم پړاو د جومات هغه ډېره لویه کوټه څه چې کوټې دی چه د ډنډ نه سل یونیم سل قدمه وړاندی ښکاره کیږې، د لښتیو د غاړو نه چه د خدای عابد بندګان راپاڅیږی نو مخ په دغو کوټو ورځی ځینی خپل مخ او لاسونه وچوي او ځیني یې نه و چوي- په دی باره کښې همدغسي مختلف اقوال رانقل شوی دی.

(۳)

په یوه وړه کوټه کي چې شنی مګر ډېری ټیټي دروازې لري درې غټ سړي او یو وړوکی ماشوم سره ناست دی.

د جومات شاته چې کومه اوږده تیاره کوڅه تیره شوې او دیوالونه یې هغسي پاخه او کلک دی لکه د آبادوونکی زړه یې، دا کوټه د هغي کوڅی آخر ته پراته ده او د هغو کوټو په مجموعه کي داخله ده چې دوخت باچا د خپلو سترو علماوو د استوګنی د پاره آبادې کړې وې.

هره کوټه یوه پس خانه او مخامخ یوه د پخلی کوټه لری، په دغو کوټو کې اوسیدوونکی علماء ډېري غټې غټې سپینی سپینی پګړۍ په سرکوي او په خبرو او تګ وراتګ کښې یې دا حقیقت له ورایه ځلیږی چه د دوی سره د [علو] احساس ښه قوي دی، هغوي پوهیږې چې یوه خبره یې لا اوس هم ټول ملک لړزولی شي، د دوی د خولی یو پو د حق او باطل معیار او د سم او ناسم میزان دی، جنت یې په یو او دوزخ یې په بل لاس کښې دی، چاته دا او چاته هغه ښنی او دا ښښنه د سړي په صفاتو او ښو اخلاقو پوري اړه لري، دوی د علم نمایندګی کوي، د پوهی لیکه همدوی تیره کړی او هغه څوک چې د دوي په حلقه کښې نه راځی هغه ګویا جاهل دی، د دوي سره د خدای د کتاب کونجي ده او د ټولو هغو مسئلونه خبر دي چې په خدایې خزانه کښې پراتی دی هرچاته د هغه د وسی په اندازه برخه ورکوي، همدا وجه ده چې د دغو معتبرو کسانو د پاره یوه د پخلی کوټه د سر په ګوتو علاوه ورکړ شوی ده- هغو درې سړو او یو ماشوم هم د پخلی د کوټونه یوه کوټه نیولی ده، دا کوټه په هغه عالم پوری مربوطه ده چه نوکر او چاکر یې ندی نیولی او پخلی نه کوی بلکه شپې ورځې په چای او ډودۍ تیروي او هغه د بازار نه تیار را غواړي.

(4)

د کوټې د ډېر ټیټ ور نه چې سړی سر ور دننه کړي او د ډېرې ټیټی درشایې نه یې چې پښه واوړي د ننه به دري کسه وګوری چه هر یو د کوټې بیل بیل دیوال ته تکیه وهلی ده، دوی به یوهم تا ونه ګوري او لکه څنګه چې ته د هغوی د تندي او مخ ګونځی شمارلی شي هغوي ستا نه شي شمارلی مګر د غوږ پردې یې هومره حساسی دی چه د آواز یوه وړوکی ښکالو هم ترې نه خطا کیږې بلکه لا ډېر ځله د قدمونو د آواز نه خاوند پیژني، د کوټې یوه دیوال ته دوه کسه ناست دي او په خپل منځ کښې په ورو ورو او وار په وار خبرې کوي.

د دوي مخونو ګونجی کړي او په هره ګونجه کی یې یو تعبیر پروت دی، سرونه یې یوې خواته داسی کاږه نیولی چې که سړی ورته ځیر شي نو د غوږونو منظر یې داسی بریښي لکه دوو کسو چې د خبرو اترو په وخت کښې یو بل ته سترګې مخامخ نیولی وي، دواړه مخونه آرام مګر غمجن معلومیږي، دواړه تندي په خاورو سپیره دي او دا د مازدیګر د لمانځه د هغه سجدو نښه ده چې دوي د اوږده او سوروړ جومات په پلنو پلنو دوړنو تیږو ایښی دې، د دواړو نابیناؤ د سر نه خیرني خیرني سپیني پګړۍ ول ول تاوې شوې دي، ددوي په مخونو د ږیرې رنګی رنګی اوږده اوږده می وریجی تارونه په یو نامرتب ډول پراته دي، د یوه په غاړه توره او د بل په غاړه بانجاني چپن ده، دواړه مښلی، دواړه خیرني او دواړه اوږدې دي، د دواړو نابیناؤ په خوا کښې غټی غټی امساګانی پرتې دې، د دواړو ړندو چپی خواته یو خیرن دیوال ته نژدی دریم ناست دی- هغه په کړه وړه کښې هغه نورو سره ښایسته ډېر شباهت لري او د هغوي غوندې د بینایې د نعمت نه محروم دی (که بینایې ته نعمت ویل جایز وي) دده او د هغو نورو همدومره فرق دی چې د هغوي په عکس د ده په لویه خوله د ببرو شنډو نه لاندی یو اوږد او پلن تبسم دم په دم ځغلي را ځغلي او د ده په خوا کی یو وړوکی لس یولس کلن هلک ناست دی چه یوه اوږده امسایې په خواکی پرته ده، د دی هلک نه یوه ورځ چه پوښتنه وکړه هلکه ته څوک یې؟ ده وویل: صاحب، عصاکش.

چې رینښتیا اعتراف وکړم په هغه شیبه کښې قطعا د دی نا آشنا کسب په اصطلاحی نوم او لقب پوه نه شوم خو وروسته می چې بیاسره مختلف ذهني حرکات یوځای کړل، نو پته راته ولګیده، د دی هلک وظیفه دا ده چې د هغو دري کسانو نه چې هر یو چیرته لري د جومات د احاطی نه بهر ځی د امسا یو سر او هغه نابینایې بل سر نیسی او دی مخکي او هغه ورپسی وي، دی هلک ته په دغسی ورځو کښې غالبا د غرمي یا د شپی غوړ او په حواشیو ډک پولاو هم رسیږي او احتمالا دوه یا زیاتی افغانی هم لاس ته ورځی او د وزګارتیا په وخت کي لږ و ډېر قرآن هم یادوي.

د یوي ارزانی بانجاني سطرنجۍ ګوزنی پیڅکی ته نژدی د موسکی نابینا بوټان پراته دی، د بوټانو تور داغي داغي مخ دوه درې ځایه په وړو او غټو پیوندونو ډک شوی دی، ته به وایې په یو زخمي مخ چې غټو دانو وهلی دوه دري ځایه پټی لګیدلی دي. دا بوټان اصیل او ولایتي دی او بیه یې د دوی د اوسني خاوند د ټولو د دري وارونه هم زیاتیږې، کله چې دا بوټان د سیند د غاړي په هغه معتبر دوکان کښې چې د ښار نازولي نجونی او هلکان سړي او ښځې پکښې راټولیږې- خرڅیدل د دوکاندار په خوا او خاطر کښې هم دا خبره نه تیریده چې یوه ورځ به یې دا محروم او نابینا انسان چې د ټولو خلکو په خیال کښې د ټولنۍ د اوږو بار دی او په واقع کښې د خلکو یوه لویه روحي او معنوي نیمګړتیا پوره کوي په پښوکړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مګر رېښتيا چه تقدير ته تدبير نشته، د بوټانو د اصلي خاوند پوره راغله او د نن نه يې پوره يوکال پخوا له دی نيمګړي دنيا سترګی پټی کړی، د مرګ واقعه خوېږي د هغه دواړو بچو ښځو او مور د پاره ډېره دردناکه وه مګر د دغو دري نابيناؤ او د نورو هغو کسانو دپاره چه د دوي په شان يې د خدای کلام په سينه کښې پروت دی او يا يې د ليک له مخي لوستلی شي دا يو نه هېريدونکی فرصت و.

همدا رنګه د مرحوم د مشر او ځلمي زوی د پاره هم دغه فرصت غنيمت ګڼل کيده، پلار يې چې مړشو هغه د خوشالی په خيراتونو او صدقاتو لاس پوري کړ او د هغه د بيشماره مخلفاتو او متروکاتو د منځ نه يې دغه بوټان، دوه جوړه جامی او يو د ژمی بلاپوش دغه حافظ جی ته ورکړل، چې يو کال پخوايې پوره يوه هفته هره ورځ د هغه په قبر قرآن ختماوه او درې ورځې سر په سر په دغه اوږده او پلن جومات کښې د اتونه تر دوولسو پوري په سورت لوستلو بوخت ؤ.

(5)

زمونږ موسکی حافظ جی صاحب مور زادی ړوند دی، پلار يې د وړکتوب نه قرآن ته کښينولی ؤ او اوس يې چې د عمر د پنځوسونه اوښتی دی د خدای کلام د اوبو غوندې روان ورځي، پخوا چه په کليو کښې اوسيده يوه روژه او بله روژه به يې د تراويحو په ختم کې قرآن تکراريده مګر اوس چه په لوی ښارکښې اوسيږی، چيرته چې هرومرو په جومه کې يو مړی پيښيږي، او چيرته چې سيالي او شريکی خلک حتما مړي پسی ختم او خيرات ته مجبور وي او بلکه د شتمنو خلکو په طبقه کښې د ختم او مکلفی ډوډۍ رواج ډېر ټينګ دی دلته نو د ده د قرآن تکرار کيږی.

که څه هم (تاسی نه څه پرده) په اکثرو وختونو کښې دی قرآن نه ختموي بلکه لا خپله سيپاره هم سمه نه خلاصوي، دی پخپله په قرآن کښې د چا سره چل ول کول نه غواړي مګر د ده نور ملګري حافظان او مخصوصا هغه مشران اوستاذان چه ډېره موده يې دا کار کړی زړونه يې کلک شويدی دی مجبور وی چې په لس پنځلس د قيقو کښې د سيپارې ختميده اعلان کړي، کله چې هغه مشر اوستاذ ارخشي تازه کړي معنی يې همدا ده چې نور نو څوک بايد خبره اوږده نه کړي. دی چې تازه ښار ته راغلی ؤ يوځل يې د ارخشی نه وروسته هم لا سر خوځاوه او سيپاره يې ويله مګر نورو استاذانو د دعا لاسونه اوچت کړل او مشر استاذ د کور خاوند ته د ده په حق کښې وويل: ((دا حافظ جی لږ مانده غوندی دی ده ته لږه ډوډۍ وساتی)) د کور خاوند ته هم د ده ماندګی چندان مزه ورنکړه هغه هم غواړي چه هر څه زر زر خلاص شي او دا بار يې له اوږو سپک شي، يوځو وخته چه د حافظ جی صاحب په کره ويلو او ښه اداء تير شو په شاوخوا محلو او د جومات په حلقو کښې دی په مانده حافظ جی مشهور شو، بيا به نو نه د مړو خاوندانو ده ته زړه ښه کاوه او نه به حافظانو دی چيرته د ځان سره بيو.

څومره چې دده موده په لوي ښار کښې اوږديده هغومره دی ژوندانه په رموزو پوهيده، اوس داسی وخت راغلی چې دی په خپله په اتوماتيک ډول پوهيږې چې کله د سيپاری د ختم اعلان وکړي او بلکه لاکه دده نه مشر حافظ جی صاحب حاضر نه وی دی په خپله هم د ارخشی توله وهلی شي.

په عام طور زمونږ حافظ جی صاحب د سهار د سپيدو نه مخکښې د خوب نه را پاځيږی او د امسا په کومک د اوداسه کوزړۍ مومی او چه اودس تازه کړی نو ځان اول صف ته رسوی، په لمانځه کښې امام ته د سحر په اوږدو اوږدو سورتونو کښې کله کله فتح هم ورکوي، د لمانځه نه چه راوګرځی نو د سماوارچې د شاګرد راتلو ته غوږ په آواز وی هغه ته ددی ضرورت نشته چې سهار راشي او پوښتنه وکړی: حافظ جی صاحب څه غواړی؟ هر سبا هغه په خپله هماغه متحد المال سباناری راوړې: يو چاينک شين چای يوه پياله بوره او نيمه ډوډۍ، که دی ته سړی سباناری وويلی شی نو همدغه سباناری غرمه هم تکراريږی او همدغه د سماوارچی شاګرد يې همدغی کوټی ته راځی، د دغه رژيم په تسلسل کې يوازينی استثناء انګور دی چه د هر اوړی او مني په ورځو کښې ور پوری د غرمی ډوډۍ خوړل کيږی او پيسی يې د يو چاينک چای د بيې سره يا معادلی او يا ترې لږې زياتی دی.

(6)

زمونږ حافظ جی صاحب هغومره شهرت او مقام ته لا هم ندی رسيدلی چه د ښار د نورو مالتونو نه په ده پسی د ختم د پاره جواب راشی د ده شهرت محلی دی او بين المحلاتی نه دی، نو ځکه يې ګويا نوره هفته خالی وی او يوازی د جمعی شپه غالبا ډکه پيښيږی، د پنج شنبی هر سحر او د ده د امثالو په حيات کښې ډېر اهميت او حساسيت لری، هرڅوک چې د مطلب خاوند وی په همدغه سحر په دوی خبری کوی چه سره غونډ شی او په لسو بجو د ختم د پاره د هغه کور ته ورشی.

عادتًا د مړو د جومی شپه د پنج شنبی په غرمه کيږی دا غرمه ممکنه ده ما او تاته عادی وی مګر حافظ جی صاحب او د هغه ملګرو ته يوه لويه ولجه ده، د هغوی په ژوندانه کښې دغه غرمه زبردست حياتی تاثير لری، دا غرمه هغسی ده لکه لاروی ته د چولی د منځ چينه لکه د يوه موټر خاوند ته د دشتی په منځ کښې د تيلو ټانک، د ژوند چرچه او د ويټامينو مور ده.

مګر کله کله چې خبره د يوې عادی جومی شپه نه غټه وی او يا خو مرحوم يا د هغه وارثان د يو لوړ اجتماعی شان وشوکت خاوندان وی نو بيايې تلين په غرمه نه کيږی او حتمًا بايد خبره شپی ته ووځی او ډېر خلک راوغوښتل شی.

په داسی حالاتو عادتًا حافظان او طالبان ختم د ماسپښين له خوا کوی او که د وخته خلاص شی - چې يقينًا همدغه سی کيږي – نو بيا د مازديګر مانځه ته بهرځی او ورپسی د ماښام مونځ هم کوی او بيا نو په ګډه بيرته د مرحوم په ځای او د هغه په دسترخان راټوليږی.

دغسی د ماښام ورشو نسبت هغه د غرمی ورشو ته ډېره ببره وی او د پلو او چلو سالن او قورمی نه علاوه پکښې حلوا، فرنی او تازه ميوې هم موندل کيږي.

همدغه سی يوه ببره ورشو ده چې زمونږ حافظ جی صاحب يې په دې مازديګر په هغه کوټۍ کښې د خپلو ملګرو نه لږ جدا کښينولی دی او د هغه په ببرو شنډو يې يو معلومدار تبسم رسم کړی دی، د همدغی ببری ورشو



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

برکت دی چې وړوکی هلک (عصاکش) دی حافظ جی صاحب ته نژدی ناست دی او د هغه نورونه لری. نن د هغه بوټانو اصلی خاوند تلین دی چه یوه میاشت کم یو کال یې زمونږ د حافظ جی صاحب سره وشو، زمونږ حافظ جی صاحب د نورو ملګرو سره نن ماسپیښین د هغه مرحوم د زوی په کاله کښې سیپارې «ختم» کړی او اوس د ماښام انتظار په ډېره بی صبرئ سره وباسی، د خیال دنیا یې ټول حلوا حلوا او پلو پلو کیږي، خوله یې دم په دم اوبه یریږدې او ذهنًا ځان دی ته هم نشی حاضرولی چه د خپلو دوو ملګرو سره په خبرو اترو کې شریک شی او د دنیا د نیمګړتوب او هغه دغه نه شکایت وکړی.

(7)

چه د ماښام لمونځ خلاص شو، د پلن او اوږده جومات د اوقی امام درې دعاګانی هیڅکله هم زمونږ په حافظ جی صاحب دومره بدی نه وی لګیدلی لکه په دی ټاکلی ماښام نن ایله د حافظ جی صاحب دی ته پام شو چې خدای پاک خو بینا، دانا او سمیع علیم دی دومره اوږدو، دعاګانو ته نو څه حاجت؟ او چه امام د دریم ځل لپاره لاس پورته کړ او په یو نری شان اوږده آواز یې وویل: «دعای حاجات، ادای قرض قرضداران، خلاصی بند بندیان، شفای مرض مریضان، شکست کفار فتح اسلام...»

زمونږ حافظ جی صاحب د حال په ژبه فریاد کاوه چه زمونږ یې دچا د قرض، بند او رنځ سره څه؟ حافظ جی صاحب د ځان سره عهد وکړ چې که دا دعا خلاصه شوه دی به هیڅکله بیا د بنده مسلمان هیڅ کار نه اوږدوي، ددعا نه وروسته عصاکش د امسا یو سر او حافظ جی یې بل سره ونیو او د جومات د مناری لاندی د نورو حافظانو سره یو ځای شول او د هغه ځای نه د مرحوم د کور خواته په یومنظم حرکت وخوځیدل، ته به وایې د اوښانو قافله یا د زانو قطار دی.

د یوی اوږدی او شدیدې مجاهدی نه وروسته چه حافظانو لاسونه ونیول نو یو دروند سکوت زمونږ د حافظ جی صاحب ماشوم عصاکش په یو خوش آینده سوال داسی مات کړ: (( استاذه! بلی پنجشنبی له د خیره چیرته یو؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ